مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست ۲۰۲۴/۰۱/۳۰

# ازار وهلي

تېره تياره وه. د سورلۍ موټر مو د لغمان حدودو کې داخل شوی و او په تنګو موړونو کې تاويده را تاويده. يو وخت ورو شو او بيا کيڼ لاس ته تاو شو. دلته يو رسټورانټ و، موټروان ته پکې وړيا خواړه په لاس ورتلل؛ خو ده دغه وړيا خوړو ته هم د خپلې تقوا جامې واغوستې او ويل يې: که خوښه مو وي همدلته به د ماسخوتن لمونځونه وکړو او دمه به جوړه کړو!

ځيني خلک په رسټورانټ ور ننوتل او ځيني نور بيا د هغه خواته په دوکان. زه معمولا په لارو کې د خوړو عادت نه لرم؛ نو قدم وهل مې شروع کړل، د سرک خواته لاړم. سرک دومره ښکلی ښکاريده چې همځته يې ننداري ته ولاړ پاتې شوم .

د تک تور سرک په منځ کې نښې لګيدلې وې. دې نښو د تک او راتګ حد ټاکلی و. نښو ته چې به د موټر څراغونه مخامخ شول، تکې سرې به ښکاره شوې. دلته سرک لږ کوږ وږ و. په دې کاږه واږه سرک کنار سرو نښو يو عجيبه منظر جوړ کړی و. لکه لالونه دي چې په ترتيب ايښی وي، لکه پر کږه وږه پوله چې د غاټولو ګلونه غوړيدلي وي او لکه...

همداسې په دې ننداره کې غرق وم چې هارنډ وشو او مخ په موټر روان شوم.

***

په هغه ورځ مې له کورنۍ سره سهار ملا اذان له جلال آباد ښاره حرکت وکړ چې له سروبي بازاره ووتلم، لا هم لمر نه و را ختلی. د سروبي په چړايي ور روان وم. سرک کې ناست خلک ښکاره شول. ور ته ځير شوم، دوی سره اوږده سيخان ول او دا نښي يې له بيخه کاږلې. همدلته مې د زور او طاقت ارمان وکړ او له خپلې کمزورۍ او بې وسۍ ګيله راغله.

بيا چې به په دې لاره د شپې ناوخته تللم، نو هغه سرې او ښايسته نښې مې نه ترسترګو کيدلې، لکه هر چيرته چې د همدغه شان خلکو ورانکاره لاسونه رسيدلي وي او په دې سره به مې زړه کې ناهيليو ځريکې وکړې .

***

يو وخت د پيښور له چارسدې هډې د کراچۍ په نيت وخوځيدم. هغه وخت لا د کوهاټ تونل نه و جوړ. موټر په کړليچونو کې تاويده راتاويده. موټروان ته مې پام شو: ځينو موړونو کې به بيخي ورو شو، کله به اړخ ته ودريد او بيا چې به مې کتل نو له هغې خوا به موټر راښکاره شو. حيران وم، ما ويل لکه چې دا چرسي موټروان بزرګ دی!

خو چې پام مې شو؛ نو ګورم چې دلته موړونو کې سترې ګردې هنداري په داسې بڼه لګيدلي وې چې موټروان پکې له مقابل لوري راتلونکی موټر ليده. ما ويل کاش، زموږ ماهيپر کې هم همداسې هنداري لګيدلې وای.

کله چې د کابل – جلال آباد ويجاړه لاره قير شوه، نو ماهيپر کې مې په همداسو هندارو سترګې ونښتې، د کوهاټ سرک راياد شو او د خپل ارمان په پوره کيدو مې شکر وويست. خو لا کال نه و، وتلی چې هندارو ته مې پام شو، د پيښوريانو په خبره: تښې ډانچې يې ولاړې وې او هنداري چا تښتولې وې.

***

اول مې د ځينو ناصحانو په څير داسې فکر کاوه چې ګوندي دا توليُ غلاوې له غريبۍ او مجبوريته کيږي؛ خو چې کله دوه کاله وړاندې باميانو ته لاړم او هلته مې د سرک د غاړې تولي لوحې او نښې سلامت وليدې او بيا مې د باميانو د خلکو فقر ته وکتلې چې آن په غارونو کې ژوند کوي؛ نو يقيني شوم چې د غلا يواځنی لامل مادي فقر نه دی، بلکې تر ډيره معنوي فقر دی.

***

اوس چې کله هم د کابل – جلال آباد پر لويه لاره له خونړيو ترافيکي پيښو خبريږم، نو ځان سره وايم: موږ لکه چې د دې سرک ازار وهلي يوو!

نعمان دوست



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ